مغالطي

# وړه هې (ه)
# چرګۍ هې (هـ)

م.ر. شفق

**نوټ: د ,,پښتون،، اداره دا مضمون خالص علمي هڅه ګڼي. په دې موضوع د اخلاقو دائره کښې هر څوک خپل خیال څرګندولے شي.**

په ۲۹.۲۸ دسمبر۲۰۱۲ د پېښور پوهنتون پښتو اکیډمۍ ډائریکټر ښاغلي نصرالله خان وزیر د پښتو املا او لیک دود په بابله د دوه ورځني سیمینار بندوبس کړے ؤ. دې کښې د باړه ګلۍ سیمینار پښتو املا په حقله د شوو متفقه فېصلو جاج اخستے شو.

زۀ په دغه حواله څه نۀ وایم. ځکه چې دغه سلسله به وړاندې هم بوتلے شي. او د پښتو معیاري املا یقیني کولو دپاره به که خپرې نور کانفرنسونه هم کولے شي او آخر کښې به د پښتونخوا،جنوبي پښتونخوا او د افغانستان د پښتو عالمانو،ژبپوهانو یوې نمائنده غونډه کښې په شریکه یوه اعلان نامه جاري کولے شي. او کومې فېصلې چې وشي هغه به لکه د قانون نافذ ګڼلے شي او بیا د ټولو مختلفو لهجو پښتانۀ په یوه ټاکلې معیاري املا کښې کتابونه او رسالې او د پښتو ورځپاڼې چاپ کولے او خپرولے شي.

زۀ دلته د وړې (ه) او چرګۍ (هـ) باره کښې د یو عام لیکونکي په توګه او د خپل ځان پوهولو دپاره د خیالاتو څرګندونه کوم. نۀ د املا ماهر یم او نۀ ژبپوهاند.

سیمینار (مذاکره) کښې شامل ادیبان او پوهان په دې متفق وو چې د پښتو ,,حروف تهجي،، کښې وړه هې (ه) او چرګۍ (هـ) د یو اواز دوه شکلونه دي. یعنې د وړې (ه) او چرګۍ (هـ) اواز یو دے. دغه مهال کښې یو ښاغلي د ټوقې په انداز کښې ووې چې دا چرګۍ (هــ) (دوه سترګې هــ ور تــه هــم وئیلے شي) د قلندر مومند صاحب ده. نو پروفیسر ډاکټر محمد زبېر

حسرت جواب ورکړو چې نۀ جي د قلندر صاحب نۀ ده. دا پـه قران کښې هم راغلې ده. محترم همېش خليل يادګيرنه ورکړه کۀ په قران ئې ثابتوئ نو په قـران کښې خـو نـورې خبـرې هـم شته هغه تاسو منئ؟

خبـر دا خـو يـوه جـمـلـه معترضـه شوه. حـقيـقت دا دے چې د پخوا نه تراوسه پورې پښتو ليک دود کښې ورِه (ه) او چـرګـۍ (هـ) يو شان اواز ورکـوي. پوهاند قلندر مومند او د هغه يو څو شـاګردانو د چرګۍ (هـ) يو نوي استعمال ته دوام ورکـولـو هڅې وکړې. او بـر ناحقه ئې لوستونکو ته يوه بله لانجه جوړه کړه. پښتو ادبي سوسائټۍ اسـلام آبـاد چې د پـوهاند قلندر موند د خدماتو په اعتـراف کښې يـوه ادبـي دستـوره کړې وه. پـه سټېـج قـلـنـدر مـومند صاحب سره پروفيسر ميا تـقـويـم الـحق کاکاخيل هم ناست ؤ. د دستورې صـدارت ئې کـوو. دستـوره کښې اورولے شـوې مـقـالې او نـظـمـونه د کتاب په شکل کښې چاپ شـوې دي. قـلـنـدر مـومـنـد فن او شخصيت چې اباسين آرټس کونسل پېښور ور ته د کال ۱۹۹۴ء ,,سـلـور ميډل،، ( د سپيـنو زرو تمغه) ورکړې وه. پـــه دغـــه موقعـــه ما د ,,سباؤن پـه حـواله،، مـضمون کښې وئيلي وو چې د چرګۍ (هـ) نوے استعمال د قلندر مومند صاحب ذهني اختراع ده.

پښتـو ليک دود تـه بـه ئې څه ښېګړې د دوي پـه خيـال رسېـدے هـم شـي. خو هر کله چې زيـات شـمېـر پښتـو ليـکـونکي پـه املا کښې د مـروجه مخصوص تورو په استعمال نۀ پوهېږي د ګ او ږ دخ او ښيـن د ز او ځ د چ او څ فـرق نۀ شي کـولے نـو چرګۍ هـ په نوي انداز کښې راوستل د سحر په بانګ کښې يوه نوې ټپه ده.

قـلـنـدر مـومـنـد صـاحب او د هغـه لائق شـاګردان زياتره د خوشحال خان خټک يو شعر په ثبوت کښې پېش کوي هغه دا چې:

پـه کـاتـه کاته مې سترګې په خاته شي
چې خبـــر دې د راتـــلـو رابـانـدې ؤشـي

دوي دليـل دا وائي چې ,,و،، پسې ,,هـ،، ولګولے شي نو ,,خـاتـه،، سـره بـه قـافيه درسته شي او د هـمـزه (ء) لـرې کولو سره به کمپيوټر ته آسانه شي.

د يـو سـاعـت دپـاره به فرض کړو کۀ دغه شـعـر خـوشـحـال بابا په خپل لاس او قلم دغسې ليـکـلے وي نـو څـه جواز به جوړ شي. چې قلندر صـاحـب ورلـه په چرګۍ ,,هــ،، د قافيې اصلاح وکړي. خو کۀ چرې د چا کاتب د هنر کمال وي او دا ,,کـمـالـونه،، کاتبانو مدام ښودلي دي بلکې د نن دور ,,کـــمـپــوزران،، خــو د داسې غـــلـــطيــو ,,چيـمـپيـئـنـان،، دي. ځکه نو د اعتبار وړ نۀ شي ګرځېدے.

پـخواني کاتبان عالمان فاضلان خلق وو.

هغوي به د ليکونکو شاعرانو د املا اصلاح کوله. خو د کتابت د غلطيو امکان بيا هم موجود ؤ. کېدے شي د يو کتاب نه سهو شوي وي او د خوشحال بابا مصرع کښې ,,چې خبر دې د راتلو رابانـدې وشي،، ترې ه،هـ هېره شوې وي. او ورپسې ښاغليو دغه غلطي په ځائې ساتله ساتله تر دې چې قلندر صاحب غونډې پوهاند ور ته توجه وفرمائيله. او د قافيې ګوتمه کښې ئې چرګې ,,هـ،، لکه د غمي ولګوله. خو سوال دا دے چې دواړه هې ګـــانې کۀ وړه ده او کۀ دوه سترګې يو شان اواز ورکوي او کله چې اواز نۀ ورکوي نو دغلته وړه ,,ه،، هم هغه کار کوي کومه چې د پوهاند قلندر مومند صاحب په خيال صرف دوه سترګې ,,هـ،، کوي.

لکه دا يوه جمله به واخلو ,,دا خبره داسې ده،، يا مثلاً ,راغلې وه،، دلته کښې وړه ,,ه،، چپ ده. غږ ئې نۀ خېژي. او د ژبې ويونکي پرې پوهېږي. تلفظ ئې صحيح کولے شي. کۀ چرګې ,,هـ،، وليکلے شي نو هم پرې څه فرق نۀ پريوځي ولې په دې کښې د يوې نيمې خبنتي جماعت جوړولو ته څه حاجت دے؟

کاتبانو صاحبانو کله يو ټکے (توري) يو شان ليکلے وي کله بل شان. او کله کله ترې سهوه ؤشي. يو نيم توري په ليکلو کښې پاتې شي.

,,پټه خزانه د حقيقت په آئينه کښې،، د ښاغلي عبدالکريم بريالي تصنيفه او تحقيق دے. دا کتاب پښتو اکيډيمي کوټه په کال ۲۰۰۳ء کښې شائع کړے دے. د کتاب په مخ ۳۰ د خټکو په ليک دود کښې د خوشحال بابا د ديوان د يوې پخوانۍ نسخې عکس چاپ شوے دے. چاپ شوي عکس کښې د خوشحال خان خټک د دې غزل مطلع په داسې ډول ليکلې ده:

پکاته کاته مې سترګ پخاته شي
چې خبر دِ د راتلو رابَاند وه شي

دې کښې ,,و،، پسې باقاعده وړه ,,ه،، ليکلې ښکاري.

دا هم د يارانو يوه مغالطه ده چې ګنې قران کښې راغلې چرګې يا دوه سترګې ,,هـ،، هغه ,,هـ،، ده چې دوي ئې په نوي انداز کښې استعمالوي. قران کښې چې چرته هم چرګې ,,هـ،، راغلې ده ښکاره اواز ورکوي. لکه ,,هُوالله،، هذاالذي،، هذا ما کَنَزْتُم،، البته اردو او هندۍ ژبو کښې چرګې ,,هـ،، د الفاظو مينځ کښې راځي او د دې مخصوص پټ اواز ,,اهل زبان،، ادا کولے شي. او صحيح تلفظ ئې کولے شي. دا قسمه لفظونه چې پښتو کښې راشي نو چرګې ,,هـ،، ترې له مېنځه وړلے شي. لکه ,,سُتره،، (ستهرا) ,,کره،، (کهرا) وغېره.